د افغانستان د جمهوري دولت رسمي خپرونه

# رسمي جریده

# د دولتي انحصار د موسسې اساسنامه

# اساسنامه موسسه انحصار دولتی

دیارلسمه گڼه

پر له پسې لمبر (۲۸۰)

نیټه: پنجشنبه د۱۳۵۳ کال دزمري دمیاشتې (۳۱)

دامتیاز خاوند : دعدل وزارت
مسؤل مدیر : م . حسین (طغیان)
مرستیال: عبد الحبیب (امین)

پته:دعدل وزارت کابل،افغانستان

# رسمی جریده

د افغانستان د جمهوری دولت رسمی جریده

## دعظمی صدارت ۱۳۵۳ کال دچنگاښ دمیاشتی دشلمی نیټی (۵۸م) گڼه فرمان

**ښاغلی دکتور عبدالمجید دعدلیه وزیر!**

دوزیرانو مجلس په ۵۵۵ گڼــه فیصله کی د ۱۳۵۳ کال دچنگاښ دمیاشتی اتلسمی نیټی په غونډه کی دمالیی دوزارت د۱۳۵۳ کـال د چنگاښ د میاشتی د اتلسمی نیټی عرض پاڼی ته په کتنه دد ولتـی انحصار د موسسی داساسنامی په هکله لاندی مراتب تصویب کړل:

«د دولتی انحصار د مـؤسسـی آساسنامه په پنځه ویشت مادو کی دننه چه د دارالانشأ مهـر پـری لگیدلی دی منظور ده .»

د وزیرانو د عـالـی مجلس د تصویب مراتب چه د افغانستان د جمهوری دولت د رئیس د حضور د منظوری په شرف رسید لی او د ۱۳۵۳ کال د چنگاښ د میاشتی د نولسمی نیټی په ۹۴۰ گڼه کی ثبت شوی تاسی ته خبر درکړ شو تر څو په رسمی جریده کی یی خپریدو ته اقدام وشی .

**داکتر محمد حسن شرق**

## فرمان شماره (۵۸م) مورخه ۲۰ر۴ر۱۳۵۳ مقام منیع صدارت عظمی

**ښاغلی دکتور عبدالمجید وزیر عدلیه !**

مجلس وزراء تحت فیصله شماره (۵۵۵) در جلسه تاریخی ۱۸ ـ ٤ ـ ۱۳۵۳ با ملاحظه ورقه عرض مورخ ۱۸ ـ ٤ ـ ۱۳۵۳ وزارت مالیه راجع به اساسنامه موسسه انحصار دولتی مراتب آتی را تصویب نمود:

«اساسنامه موسسه انحصار ـ دولتی بداخل بیست و پنج ماده که بمهر دارالانشأ رسیده منظور است»

مراتب تصویب مجلس عالی وزراء که به شرف منظوری حضور رئیس ـ دولت جمهوری افغانستان رسیده و به شماره (۹٤۰) مورخه ۱۹ ـ ٤ ـ ۱۳۵۳ ثبت گردیده بشما اطلاع داده شد تا در نشران به جریده رسمی اقدام گردد .

**داکتر محمد حسن شرق**

# جریده رسمی

## ددولتی انحصار دمؤسسی اسا سنامه

## لمړی فصل

## عنوان او مرام

### لمړی ماده

### عنوان

الف – د دولتی انحصار په نامه یوه مؤسسه د انتفاعی تصدی د حیثیت په درلود لو سره تشکیل شویده .

ب – د تصدی مرکز په کابل کی دی او دهیواد په نورو سیمو کی هم ئی نمایندگی دا یری دی اوکولای شی چه دهیواد د ننه او د باندی نوری نمایندگی تاسیس کاندی .

### دوم ماده

### مرام

د دولت د انحصاری تصدی له تاسیس نه مرام څه ناڅه د انحصاری موادو د واردولو په تحدید او په ښه ډول د خرڅلاو د معیاری نرخ د تعمیمولو سره یوځای دنو موړ و موادو دویشن په تنظیم ، او څه ناڅه خارج ته د بعضی انحصاری موادو د صادر ولو د انتظام او با لواسطه د افغانستان دعالیه جمهوریت دخلکو داکثریت دلو ړو مقصدونو داړتیاوو د پوره کولو په منظور د دولت دعواید په تقویه کولو بنا دی .

## اساسنامه موسسه انحصار دولتی

## فصل اول

## عنوان و مرام .

### ماده اول

### عنوان

الف – موسسه ئی بنام تصدی انحصار دولتی با داشتن حیثیت تصدی انتفاعی تشکیل گردیده است.

ب – مرکز تصدی در کابل است و نمایندگی های آن در سایر مناطق نیز دایر بوده و میتواند در داخل و خارج کشور سایر نمایندگی ها تاسیس نماید .

### ماده دوم

### مرام

مرام از تاسیس تصدی انحصار دولت قسماء مبنی بر تحدید تورید مواد انحصاری و تنظیم توزیع آن باتعمیم نرخ فروش معیاری بو جه احسن و قسماء انتظام تصدیر بعضی مواد انحصاری بخارج وبالواسطه جهت تقویه عواید دولت بمنظور رتامین و رفع نیاز مندی مقاصد علیای اکثریت مردم جمهوریت عالیه افغانستان میباشد .

# رسمي جريده

دماليي دوزير په پيشنهاد او د دولت په منظوري د لزوم په وخت كي دخلكودااكثريت داړتيا ، وړخيني مواد د انحصاري قيودو لاندي راځي او يا له انحصار ى قيودونه ايستل كيږي .

د دولت له انحصار لاندي مواد اود هغو په توريداو توزيع كي دااستفادي ممكن لاري په لاندي ډول دي :

الف – د دولت له انحصار لاندي د ټولو نفتي موادو د ډولونو لكه پطرولو ، ديزلو ، د خاورو د تيلو او د روغنياتو د ټولو ډولونو او د هغو شيانو له شكري څخه جوړيږي مستقيم يا با لواسطه توريد .

ب – د خاورو د تيلو ، روغنياتو د هر ډول شكري موادو ، الكولي او بيرى مشرو باتو، سكر تو، دپزي د نسوارو ، د بيړي پاڼو د پايپ د تنباكو ، د لاري موټرانو ، ګړنديو موټرو (موټر سايكلو) دموټرو او موټر سايكلو د ټاير او تيوپ دتوريد اجازه نامه او د كلمو او د دولت د انحصارلاندي شنوتنباكو د صادرولو اجازه نامه د تجارتي مقررا تو سره سم .

ددولتي انحصار مؤسسه به واك ولري چه شنه تنباكو او د خولي نسوار د تنظيم د اجازي په اساس

به پيشنهاد وزير ماليه ومنظوري دولت عندالزوم بعضى مواد مورد نياز اكثريت مردم تحت قيود انحصاري آمده ويا از قيود انحصاى بر كنار گردد .

مواد تحت انحصار دولت وطرق ممكنه استفاده در توريد و توزيع آن قرار آتي است :

الف – توريد مستقيم يا بالواسطه كليه انواع مواد نفتي تحت انحصار دولت از قبيل پټرول ديزل – تيل خاك – و تمام انواع روغنيات و آنچه از شكر ساخته ميشود .

ب – صدور اجازه نامه توريدتيل خاك – روغنيات وكليه انواع مواد شكري و مشروبات الكولي – بيري سگرت –نسوار دماغ –برگ بيري تنباكوي پايپ–موترلاري–موتر تيز رفتار – (موتر سايكل ) تايرتيوپ موتر ها و موتر سايكل ها و صدور اجازه نامه تصدير روده وتنباكوي سبزه گي تحت انحصار دولت طبق مقررات تجارتي .

موسسه انحصار دولتي صلاحيت خواهد داشت كه تنباكوي سبزه گي ونسوار دهن رابه اساس اجازه تنظيم

توزیع کاندی او حــق‌الانحصار د مالیاتی دایرو په واسطه مستقیما د دولت د عوایدو په حساب لاس ته راوړی .

یادونه :ــله انحصاری‌موادوڅخه حق‌الا نحصار په سلو کــی ۱۵ ــ اودیلری (اجنسی) کمیشن‌په‌سلو کی پنځه اخستل کیږی اما له شکری‌او نفتی موادو نه په ســـلو کی ۱۲ حق‌ا لانحصار اخستل کیږی .

ج ــ د هیواد په ټولو اړو سمیو کی دنفتی او شکری هر ډول(د دولت تر انحصار لاندی) موادو ویش .

د نفتی کثیرالا ستهلاك موادو او شکری دویش په برخه کـــــی حتی الامکان‌کمیشن کاری‌تعمیمیږی شکری دخرڅلاو په هکله دښارو نو او ولایتونو د عمده خرڅلاو ډو ل ته ترجیح ورکول کیږی .

**دریمه ماده**

**پانگه**

الف ــ د مؤسسی پانگه ټوله پــه دولت پوری متعلقه ده او د مالیی د وزارت تر حسابی وارسی لانـــد ی قرار لری .

ب ــ د موسسی پانگه او د هغه منقول او غیر منقول جایداد بیه چه د موسسی په لاس کی دی د داخله حساباتو دقیمت یاد هیأت د بیــه ایښودلو په اساس د دوه ملیارد افغانیو څخه عبارت ده .

وتوزیع وحق الانحصار را اتو سط دوایر مالیاتـــی مستقیـــماء بحساب عواید دولت حصول کند .

تبصره : ـ از مـــواد انحصاری حق‌الانحصار دولت ۱۵ در صـــد و کمیشن دیلـری (اجنسی) ٥ فیصد اخذ میشود. امااز شکرومواد نفتی ۱۲فیصد حق‌الانحصاراخذ میگردد.

ج ــ توزیع تمام انواع مواد نفتی ومواد شکری وغیره(تحت‌ا نحصار دولت) که از طرف‌موسسه تو زید میشود در کلیه مناطق نیا ز منـــد مملکت . در قسمت توزیع مـــــواد نفتی کثیرالاستهلاك وشکر کمیشن کاری حتی الامکان تعمیم میگردد. در مورد فروش‌شکرطرزعمده‌فروش شهرها وولایات ترجیح داده‌میشود.

**ماده سوم**

**سر ما یه**

الف ــ سرمایه موسسه تمامـــاء متعلق بدولت بوده و تحت وارسی حسابی وزارت مالیه قرار دارد .

ب ــ سرمایه موسسه عبارت از مبلغ (دوملیارد)افغانی قیمت جایداد منقول و غیر منقول که بـــدسترس موسسه قرار دارد بر اساس قیمت داخله حسابات یا قیمت گـــذاری هیأت مساشد .

د پانگی زیا توالی او کـموالی د عمومی آمر په‌پیشنهاد او د وزیرانو د عالی مجلس په منظوری صور ت مومی .

ج – حق‌الا نحصار په دولت‌پوری د مر بو طو مستقیمو عـــوا ید و څـخـه د ی . د مـو سســـــی خالصی کلنی گټی هم د استهلاکاتو محصولا تو او نورو لگښتونو له‌وضع کولو نه وروسته د دولت د واردا تو حساب ته نقل ورکول کیږی .

## دوهم فصل

## تشکیلاتی ارکان

### خلو رمه ماده

دمو سسی تشکیلاتی ار کان

الف – عمومی آمر

ب– عامل هیأت

ج– کتو نکی هیأت

### پنځمه ماده

عمومی آمر.

د دولتی انحصار د تصدی عمو می آمر د مالیی وزیر دی .

### شپږمه ماده

دعمومی آمر واك او دندی .

۱ – د مؤسسی د کلنی کار او پرو گرام منظوری .

۲ – د کلنی بودجی منظوری .

۳– دمؤسسی دبیلانس کتنه او منظوری .

تزئید وتنقیض سر مایه به‌اسا س پیشنهاد امر عمومـــی و منظـــوری مجلس عالی وزراء صورت میگیرد .

ج – حق‌الانحصار از عـوایــد مستقیم مربوطبدولت‌میباشد–منافع خالص سالانه موسسه نیز بحساب واردات دولت‌بعد ازوضع‌استهلاکات محصولات و غیره مصارف انتقـال داده میشود .

## فصل دوم

## ارکان تشکیلاتی

### ماده چهارم

ارکان تشکیلاتی موسسه .

الف – آمر عمومی .

ب – هئیات عامل .

ج – هئیات نظار .

### ماده پنجم

آمر عمومی .

آمرعمومی تصدی انحصار دولتی وزیر مالیه است .

### ماده ششم

صلاحیت و وظایف آمر عمومی .

۱ – منظوری پروگرام و پـلان کار سالانه موسسه .

۲ – منظوری بودجه سالانه .

۳ – ملاحظه و منظوری بیلانس موسسه .

٤ ــ د داخلي نمايند گيو د پرانستلو منظوري او په خارج کې د نمايندگيو د تاسيس په هکله د پيشنهادو ړاندی کول او د وزير انو له عالي مجلس نه يې د منظوري اخستل .

٥ ــ د دولت د مامورينو د قانون سره سم دمامورينو مقر رول .

٦ ــ د مؤسسې د داخلي لايحو او مقرراتو منظوري .

٧ــ دد اخلي پورونو منظوري .

٨ ــ د موضو عه مقرراتو سره سم دمامورننو مجاز اتاو مکا فاتو منظوري .

**اومه ماده**

عامل هيأت:

الف ــ عامل هيئات د مؤسسې اجرا ئيوي رکن دی او د مؤسسې د تشکيل او بودجې په اساس له رئيس او مر ستيالانو خخه جو ړ شويدی .

بــ دعامل هيأت رئيس دو همه درجه داعطا آمر د ی د ټو لــــو اجرايیوي ،اد اري او فني چـــارو له اجراء خخه عمومي آمر تــــــه مسئول دی .

**اتمه ماده**

دعامل هيأت واك او دندی:

الف ــ د تصدی د کار د پــلان او پرو گرام ترتيب او له عمومــي آمر نه يې دمنظوري اخستــل

٤ــ منظوري افتتاح نمايند گيهای داخلي و تقديم پيشنهاد در مــورد تاسيس نماينده گيهادر خارج واخذ منظوري از مجلس عالي وزراء .

٥ــ مقرري مامورين بروفق قانون مامورين دولت .

٦ ــ منظوري لوايح و مقــررات داخلي مو سسه .

٧ ــ منظوري قروض داخلي .

٨ ــ منظوري مکافات و مجازات مامورين بروفق مقررات موضوعــه

**ماده هفتم**

هئيات عامل .

الفــ هئيات عامل رکن اجرائيوي موسسه بوده و متشکل از رئيس و معاونين باساس تشکيل بودجـــه موسسه ميباشد .

ب ــ رئيس هئيات عامل آمـــر اعطای درجه دوم بوده ازپيشبـــرد کليه امور اجرائيوي اداري و فنــي نزد آمر عمومي مــو سسه مسئول ميباشد .

**ماده هشتم**

صلاحيت ووظايف هيأت عامل

الف ــ ترتيب پلان و پروگرام کار تصدی واخذ منظوري از آمــر عمومي .

ب ـ د تصدی د کار د پرو گرام پر ځای کول د مقرراتو سره سم .

ج ـ د کلنی بودجی ترتیب او د مؤسسی عمومی آمر ته یی وړاندی کول .

د ـ د موسسی د عمومی آمر د امرونو پر ځای کول .

هـ ـ عمومی آمر ته د صلاحیتونو د ویش د پیشنهاد وړاندی کول .

و ـ د مؤسسی د داخلی لایحو ترتیب او عمومی آمر ته یی د منظوری لپاره وړاندی کول .

ز ـ ددی اساسنامی د موادو له اجراء نه د څارنی مسئو لیت .

ح ـ د معاملی لاندی موادو د ښه اقتصادی ویش او برابر ولو د امکاناتو تدقیق او مطالعه و د خرڅلاو د نرخ تثبیت .

ط ـ دعدلیه وزارت له لاری د مؤسسی د حقوقی دعواو حل او فصل ته اقدام کول .

ی ـ له لسمی رتبی نه ترشپږمی رتبی پوری د مامورینو انتخا بول او مقررول اود موسسی عمومی آمر ته د منظوری د پیشنهاد وړاندی کول او هغوی ندوباندی د مامورینو موظفول چه عامل هیات یی د وظیفوی مسؤ لیت په لحاظ د چارو د ښه والی په منظور لازمی وبولی.

ب ـ تطبیق پروگرام کار تصدی طبق مقررات .

ج ـ ترتیب بودجه سالانه وتقدیم آن به آمر عمومی موسسه .

د ـ اجرای اوامر آمر عمومی موسسه .

هـ ـ تقدیم پیشنهاد توزیع صلاحیت ها به آمر عمومی .

و ـ تر تیب لوایح داخلی موسسه و تقدیم آن جهت منظوری به آمر عمومی .

ز ـ مسئولیت مراقبت اجرای مواد این اساسنامه .

ح ـ تدقیق و مطالعه امکانات تهیه و توزیع اقتصادی تر مواد مورد معامله وتثبیت نرخ فروش .

ط ـ اقدام برای حل و فصل دعاوی حقوقی موسسه از طریق وزارت عدلیه .

ی ـ انتخاب وتقرر مامورین ازرتبه (۱۰) الی رتبه ششم وتقدیم پیشنهاد و منظوری بامر عمومی موسسه وتوظیف مامورین بوظایفی که هئیات عامل از لحاظ مسئولیت وظیفوی برای بهبود امورلازم می بداند.

ك ــ د بوجی او بلانس وړاندی کول د مالیی وزارت ته .

ل ــ د مؤسسی تهجیز د تجارتی ایجاباتو او د هغی د انحصـــاری ماهیت دغوښتنی سره سم.

م ــ د دولت د انحصاری مواد د تورید او تصدیر داجازه نا مــــو ورکول .

ن ــ د مؤ سسی د بودجـوی او تجارتی لگښتونو اجراء کول .

س ــ د موضو عه قانون سره سم د اجیرانو همدا رنگه دځانگړی تعلیماتنامی سره سم د تضمیــــن لرونکی کمیشنکار نو، گدام دارانو او تحویلدا رانو عزل او نصب.

ع ــ عامل هیئت د دولتی تصدیو د محاسبی د تعلیماتنا می ، دتصدی د اساسنا می او د تصدیو د قانون د مندرجو وظیفو په پای ته رسولو مؤظف دی .

## دریم فصل

### کتو نکی هیأت اودندی یی .

### نهمه ماده

کتونکی هیئات اجرا ئیوی رکـــن نه‌دی، له هغو دری تنو شخـــــه جوړ شوی دی چه د مالیی د وزیر له خوا د موضوعه مقرر اتو سره‌سم مقرر او تاکل کیږی .

ك ــ تقدیم بودجه و بیلانس و راپور های لازمه بوزارت مالیه .

ل ــ تجهیز مــوسسه مطـابــق ایجابات تجارتی وماهئیت‌انحصاری آن .

م ــ صدور اجازه نامه تورید و تصدیر مواد انحصاری دولت .

ن ــ اجرای مصارفات بودجوی و تجارتی موسسه .

س ــ عزل و نصیب اجیران بــر طبق قانون موضوعه و هکذاء عزل ونصب کمیشنکا ران وگدام داران و تحویلداران دارای تضمین بروفق تعلیماتنامه جدا گانه .

ع ــ هئیات عامل موظف بانجام و ظایف مندرج تعلیماتنامه محاسبه تصدی های دولتی و اسا سنا مـــه تصدی وقانون تصدیها میباشد .

## فصل سوم

### هیأت نظار، صلاحیت‌ووظایف‌آن

### ماده نهم

هئیات نظار رکن اجرائیوی‌نبوده مشتمل ازسه نفر میباشد که ا ز طرف وزیر مالیه طبــق مقـــررات موضوعه تعیین و مقرر میگردند .

# رسمی جریده

**لسمه ماده**

الف ــ دمو سسی دهغه کلنی کار د پرو گرام او پلان چه دعامه هیئات په واسطه طرح شوی تحلیل او ارز یابی اود مالیی وزار ت ته بی دقانع کوونکو د لایلو سره وړاندی کول .

ب ــ د تصدی د کلنی بود جی مطالعه او تحلیل .

ج ــ د تصدی دکا ر د پلان او پروگرام د تطبیق او عدم تطبیق په هکله دتصدی دفعالیت تحلیل او ارزیا بی.

ن ــ د تصدی د کلنی بلا نس تجزیه، بررسی او تحلیل اود هغه په‌هکله دمالیی وزارت ته د رپوټ وړاندی کول .

ه ــ د تصدی له معاملاتو او اجرا آتو څخه څارنه او کتنه چه گوندی دترتیب شوی اساسنا می او د تصدی د نورو داخلی مقررا تو اولایحو اود تصدیو د قا نو ن سره‌سم پرځای شوی او که نه او د مالیی وزارت‌ته د هغو په‌هکله د رپوټ وړاندی کول .

و ــ په شپږ میاشتو کی‌یو ځلی د تصدی د حسابی چارو کنترو ل او د بلانس شیټ په ډول یی عمومی آمر او د مالیی وزارت ته لیږل .

**ماده دهم**

الف ــ تحلیل وارزیا بی پلان و پروگرام کارسالانه تصدی که‌توسط هئیات عامل طرح گردیده و تقدیم آن بادلایل مقنعه بوزارت مالیه .

ب ــ مطالعه و تحلیل بودجه سالانه تصدی .

ج ــ تحلیل و ارزیابی فعالیت تصدی در مورد تطبیق وعدم تطبیق پلان و پروگرام کار تصدی .

د ــ تجزیه، بررسی و تحلیل بیلانس سالانه تصدی و تقدیم راپور در مورد آن بوزارت مالیه .

ه ــ مراقبت و نظارت ازمعاملات و اجراات تصدی که ایاء موافق به اساسنامه مرتبه و دیگر مقررات و لوایح داخلی تصدی و قانون تصدی ها عملی گدیده است ویاخیر و تقدیم راپور در مورد آن بوزارت مالیه وکنترول امور حسابی تصدی در ششماه یك مراتبه وارائه آن‌طور بیلانس شیت به‌آمر عمومی‌ووزارت مالیه .

ز ــ کتونکی هیئات په خانګړی ډول په تصدی پوری د ټولو چارو په هکله کوم تصمیم نشی نیولای .

## خلورم فصل

## ددولتی انحصار دتصدی‌مالی‌چاری او بلانس

### یولسمه ماده

د دولتی انحصار د تصدی د محاسبی سیستم او حسابی وارسی د محاسبی د هغه سیستم په اساس چه د تصدیو په قانون کی یی یادونه شوی صورت مومی .

### دولسمه ماده

د دولتی انحصار د تصدی کلنی بلانس د مالی کال له تیریدو نه وروسته منتها د راتلو نکی په‌دری میاشتو کی د ننه‌ترتیب ، د حسابی وارسی لپاره کتونکی هیئات ته سپارل کیږی . وروسته مربوطو مقاما توته وړاندی کیږی .

### دیار لسمه ماده

دمعاملی وړ مهمو موادو دخرڅلاو دنرخ تثبیت دوخت دغوښتنو په اساس د لزوم په وخت کی د عمومی آمر په واك کی دی .

ز ــ هئیات نظار بصورت منفرد درامور مربوط تصدی تصمیمی اتخاذ نموده نمیتواند .

## فصل چارم

## امور مالی و بیلانس تصدی انحصار دولتی

### ماده یازدهم

سیستم محاسبه ووارسی حسابی تصدی انحصار دولتی به اساس سیستم محاسبه که‌درقانون تصدیها ازان ذکر بعمل آمده صورت میگیرد.

### ماده دوازدهم

بیلانس سالانه تصدی انحصار دولتی بعد از انقضای سال مالی منتها در ظرف سه ماه سال آینده ترتیب گردیده جهت وارسی حسابی به هئیات نظار سپرده شده بعداً به مراجع مربوط تقدیم میگردد .

### ماده سیزدهم

تثبیت نرخ فروش مواد مهمه مورد معامله به اساس مقتضیات وقت عندالزوم بصلاحیت آمر عمومی است .

**څلورلسمه ماده**

د مؤسسی د اداری لګښت په سلو کی دری او د تجارتی ګټی په سلو کی لس دخرڅلا وپه نرخ کی شامل دی .

**پنځه لسمه ماده**

د دولتی انحصار تصدی کولای شی چه دپلان دمازادی ګټی په سلو کی یو د کارګرانو او مامورینو د مالی بنسټ د تقویی او تشویق لپاه وویشی.

**شپاړلسمه ماده**

د دولتی انحصار تصدی دموضوعه قوانینو سره سم ددولت او ښاروالیو د ټولو مالیاتو او محصولاتو په ورکړه مکلفیت لری.

**اولسمه ماده**

د دولتی انحصار د تصدی په لاس راغلی ګټه پر عایداتو د مالیاتو اونورو هغو تعهداتو له ورکړی وروسته‌چه په دی اساسنامه کی یی یادونه شویده ټوله ددولت د عوایدو حساب ته د انتقال وړده .

**پنځم فصل**

**ددولتی انحصار دتصدی ړنګیدل او تصفیه.**

**اته لسمه ماده**

د دولتی انحصار دتصدی ړنګیدل او تصفیه له لاندنیو عواملو نه په یوه صورت مومی:

**ماده چهاردهم**

درنرخ فروش سه‌فیصد مصرف اداری و ده فیصد مفاد تجارتی موسسه شامل میباشد .

**ماده پانزدهم**

تصدی انحصار دولتی میتواند که (۱) فیصد مفاد مازادپلان راجهت تقویه بنیۀ مالی‌وتشویق کار گران و مامورین توزیع نماید .

**ماده شادهم**

تصدی انحصاردولتی درپرداخت تمام مالیات و محصولات دولت و شاروالیها طبق قوانین موضوعه مکلفیت دارد .

**ماده هفدهم**

مفاد حاصله‌تصدی انحصاردولتی بعد از پرداخت مالیات بر عایدات و غیره تعهداتیکه در این اساسنامه ازان تذکر بعمل‌آمده تماماء بحساب عواید دولت قابل انتقال میباشد .

**فصل پنجم**

**انحلال وتصفیه تصدی‌انحصار دولتی**

**ماده هژدهم**

انحلال و تصفیه تصدی انحصار دولتی‌تحت یکی از عوامل ذیل صورت میگیرد :

الف ـ د ورسپال شو یووظیفو نه سترگی پټول .

ب ـ د نورو دولتی تصدیو سره پیوستون یا ادغام .

ج ـ نظر هغو عواملو ته چه عمومی آمر ته‌تثبیتیږی دور سپارل شویو وظیفو د پر مخ بیولو عدم امکان .

**نو لسمه ماده**

د دولتی انحصار د تصدی ړنگیدل د مالیی وزارت په پیشنهـاد او د وزیرا نو د عالی مجلس په‌تصویب صورت مومی .

**شلمه ماده**

د دولتی انحصارد تصدی دتصفیی چاری د هغی د موظفو او مسئو لو مامورینو له خوا زیات نه زیات باید په څلورو میاشتو کی تکمیل شی.

**یو ویشتمه ماده**

د دولتی انحصار د تصدی شتمنی د پورونو او په تصفیی پوری د مربوطو لگښتو نو ورکړی وروسته ټوله د مالیی وزارت ته انتقالیږی .

**شپږم فصل**

**د دولتی انحصار د تصدی متفرقه مسایل**

**دوه ویشتمه ماده**

مؤسسه د ساتنی وړ مقدارنفتی مواد او شکره د ضرورت یا اضطرار

الف ـ صرف نظر از انجام وظایف محوله آن.

ب ـ الحاق یاادغام‌تصدی انحصار دولتی بادیگر تصدیهای د ولتی.

ج ـ عدم امکان در پیشبرد وظایف محوله نظر به عواملیکه نزد آمرعمومی تثبیت میگردد .

**ماده نزدهم**

انحلال تصدی انحصار دولتی به اثر پیشنهاد وزارت مالیه و تصویب مجلس عالی وزراء صورت میگیرد.

**ماده بیستم**

امور تصفیه حسابات مربوط تصدی انحصار دولتی توسطمامورین موظف و مسئول آن حدا عظمی در ظرف چهار ماه باید تکمیل گردد .

**ماده بیست‌ویکم**

دارائی تصدی انحصار دولتی بعد از تادیه دیون ومصارفات‌مربوط به تصفیه تماماء بوزارت مالیه انتقال داده میشود.

**فصل ششم**

**مسائل متفرقه تصدی انحصار دولتی**

**ماده بیست‌ودوم**

مو سسه مقدار قابل نگهدا شت مواد نفتی وشکررا درموقع‌ضرورت

په وخت کی تثبیت او موضوع د عامه خبرتیا لپاره اعلا نوی .

**در ویشتمه ماده**

د دولتی انحصار لاندی موادو د انحصاری مقرراتو نه سر غړول د جزائی قوا نینو سره سم د مربوطو مراجعو له خوا تعقیبیږی

**خلور ویشتمه ماده**

په ټولو هغو مواردو کی چه په دی اساسنامه کی یی یادونه ، نه ده شوی د تصدیو د قانون او د دولت د نورو قوانینو او موضوعه مقرراتو سره سمه تلنه کیږی .

**پنځه ویشتمه ماده**

هغه تعدیلا ت چه په دی اساسنامه کی لازم گڼل کیږی دعامل هیئآ ت له خوا ترتیب او عمومی آمر ته سپارل کیږی او د وزیرا نو دعالی مجلس له منظوری نه وروسته دغی اسا سنا می سره ضمیمه کیږی.

ویا اضطراری تثبیت و موضوع را جهت اگاهی عامه اعلان می نماید .

**ماده بیستو سوم**

تخلف از مقررات انحصاری مواد تحت انحصار دولتی طبق قوانین جزائی وازطرف مراجع معینه تصویب میشود .

**ماده بیست وچارم**

درسایر مواردیکه دراین اساسنامه ذکر بعمل نیامده بر طبق قا نو ن تصدی و سایر قوانین و مقررات موضوعه دولت رفتار میشود .

**ماده بیستو پنجم**

تعدیلاتی کەدر مورد این اسا سنامه لازم دیده میشود از طرف هئیات عامل ترتیب وبه آمر عمومی تفویض و بعد از منظوری مجلس عالی وزاء ضمیمه این اساسنامه میگردد .

## دعظمى صدارت د ۱۳۵۳ کال دچنگابنی د میاشتی د شلمی نیټی (۴۳۷) گڼه فرمان

**ښاغلی میر علی احمد مودودی دعظمی دصدارت دمحاسباتو دپلټنې رئیس !**

دوزیرانو مجلس په ۵٦۳ گڼې فیصلې کښی د ۱۳۵۳ کال دچنگابنی داتلسمی نیټې په غونډه کښې دعظمی صدارت دمحاسباتو دپلټنې دریاست د ۱۳۵۳ کال دچنگابنی دمیاشتی داتمی نیټې دولسمی گڼې عرض پاڼې ته په کتنه دمحا سباتی دوسیو په هکله لاندی مراتب تصویب کړل :

«دمحاسباتی دو سیو دمرا حلو دتیرولو په برخه کښی دی په دری مادو کښی دمحاسباتو دپلټنې د ریاست نظر عملی شی ».

دوزیرانو دعالی مجلس د تصویب مراتب چه د افغانستان د جمهوری

## فرمان (۴۳۷) مورخه ۲۰ر۴ر۱۳۵۳ صدارت عظمی

**ښاغلی میر علی احمد مو دو دی رئیس تفتیش محا سبات صدا ر ت عظمی !**

مجلس وزراء تحت فیصله شماره ۵٦۳ در جلسه تار یخی ۱۸ـ۴ ـ ۱۳۵۳ با ملاحظه ورقه عرض شماره (۱۲) مورخه ۸ـ۴ـ ۱۳۵۳ ریاست تفتیش محاسبات‌صدارت عظمی‌راجع به دوسیه های محاسباتی مـراتب آتی را تصویب نمود .

«در حصه طی‌مراحل‌دوسیه های محاسباتی نظـــر ریاست تـفتیش محاسبات به داخل سه ماده مندرجه ورقه عرض عملی گر دد ».

# رسمي جريده

دولت درئیس دحضور دمنظوری په شرف رسیدلی اود ۱۳۵۳ کال د چنگاښ دمیاشتی دنولسمی نیټی په ۹٤۸ گڼه کښې ثبت شوی دی‌تاسی ته خبر درکړ شو تر څو دهغه سره سم عمل وشی .

**داکتر محمد حسن شرق**

مراتب تصویب‌مجلس عالی‌وزراء که بشرف منظوری حضور رئیس دولت جمهوری‌افغانستان رسیده وبشماره (۹٤۸) مورخه ۱۹ـ٤ ـ ۱۳۵۳ ثبت گردیده بشما اطلاع داده شد تاطبق آن تعمیل گردد.

**داکتر محمد حسن شرق**

۱ـ دکار دبیرته پاته کیدلو د لری کولو اود هغو لاینحلو دوسیو دګړندی حل او فصل لپاره چه ډیرو کلونو راپه دی خوا یوپربل کیښنودلی شویدی او ددولت دشتمنی زیات مقدار هغو دوسیو پوری معلقه پاته شویده په داسی حال کښی چه باقیداران لههغی شتمنی نه چه په واقعیت کښی عامه شتمنی ده په غیر قانونی ډول ګټه اخلی، دپلټنی عمومی ریاست واك په لاس راوړی چه خارنوالیو ته دارجاع نه پرته د باقیاتو تحصیل په غاړه واخلی او دوزارت خانو او مربوطو اور ګانو دقانونی صلاحیت پهواسطهددوسیو په شاملینو او مظنو نینو انضبا طی جزا تطبیق کاندی .

۲ـ ځینی اوسنی دوسیی اوهمدا رنګه هغه دوسیی چه په راتلو نکی وخت کښی دمحاسباتو ریاست ته راځی دباقیاتو دتحصیل اومحاکماتی جزا په دوه مهمو عنصرونو کښی شاملی دی نوپه دی سبب لازمه ده چه ددغو دوسیو محتویات دنوموړو دوه عنصرونو په اساس په دوه ډلو وویشل شی .

۱ ـ جهت رفع پسمانی کاروحل وفصل سریع دوسیه های لاینحل که از سالیان دراز روی هم انباشته شده ومقدار هنگفتی از دارائی دولت بدون سر نوشت معلق بهآن دوسیه هامانده است درحالیکه باقیداران ازآن دارائی ها که در واقع دارایی عامه میباشد، بهصورت غیر قانونی بهره برداری مینمایند لازم است ریاست عمومی تفتیش صلاحیتی کسب کند که بدون ارجاع به څارنوالی هاعهده تحصیل باقیات را بدوش گرفته و تطبیق جزای انضباطی را بالای شاملین ومظنو نین دوسیه توسط صلاحیت قانونی وزارت خانه ها وار گان های مربوط تطبیق نماید .

۲ـ برخی از دوسیه های موجوده وهمچنین دوسیه های که در آینده به ریاست محاسبات می آید شامل دو عنصر مهم تحصیل باقیات و جزای محاکماتی میباشد وا ز ینرو لازم است محتویات این دوسیه ها با ساس این دوعنصر بهدوکتهگوری تقسیم شود .

اول ددولت دحقوقودباقیاتو برخه دی بی‌له‌ځنډه اجرا یی مرا جعو ته ورکړه شی چه تحصیل شی اودوهم داچه محاکماتی او جزایی جنبه دی دعدل وزارت ته ارجاع شی چه له هغی لاری نتیجی ته ورسیږی چه‌له یو پلو ددولت پیسی په‌لاس راشی او‌له بلی خوا یی محاکماتی موضوع له واقعی مجراء حل شی .

۳ــ هغه دوسیی چه‌په‌تیرو کلونو کښی دصدارت د محاسباتو دپلټنی دریاست پــه واسطه د تحلیل او تجزیی لاندی نیول شویدی اود هغو یــوه برخه‌د څارنوالی داعتراض وړ ګرځیدلی او ریا ست ته مسترد دی شویدی باید چه ددغــه ریا ســت اود څارنوالی دعالی‌اداری‌او د مالیی دوزارت دلوړی رتبی دنمایندګانو د جوړی شوی کمیټی له‌خوا یری غور وشی اود هغو وروستی نتیجی دی واخستل شی. تر څو تردی زیات ددولت شتمنی ځنډ نشی اوهغه ډله افراد چه ددوسیو د حل او فصــل منتظر ناست او بلاتکلیفه پاته دی دلاځنډی سره مخامخ نشی. په‌دی

اول قسمت باقیات حقوق دولت بلا فاصله بمراجع اجرائی داده‌شود کــه تحصیل گــردد و ثانیاٌ جنبه محاکماتی وجزائی آن بوزارت عدلیه ارجاع گردد که ازان طریق به‌نتیجه برسد که از یکســو پــول دولــت تحصیل شود ازسوی دیگر موضوع محاکماتی از مجرای واقعی آن حــل گردد .

۳ــ دوسیه هاییکه در سا لهای گذشته‌توسط ریاست‌عمومی تفتیش محاسبات صدارت مورد تحلیــل و تجزیه وتحقیق گر فته و قسمتی از آنها مورد اعتراض څارنوالـــی واقع شده و به ریاست مستردشده است باید در کمیته ای مــرکب از نمایندگان این ریاست ونما یندگان عالیرتبه اداره‌عالی‌څارنوالی ووزارت مالیه بررسی‌وغورشود ونتائج‌نها ئی آنها گرفته شود تا بیشتر دارائی دولت ملتوی نمانده‌وعده از افرادیکه منتظر حل وفصل دوسیه‌هانشسته و بلا تکلیف مانده اند دچار سر ــ گردانی نشوند. بدینصورت دو سیه

# رسمی جریده

ډول دوسیې حل کیږي اوداشخاصو ذمت د باقیداری واقعیت او هغو مسئو لیت او یایې یواځې باقیداری او برائت اویا کاملا برائت صادریږي چه په دې ډول کښې عادلانه فصیله صورت مو مي. له یوې خوا حسابي موضوع اوله بلې خوا خلك له لالهندې اوبې سرنوشتې څخه خلاصیږي .

اودغه دتلقي ډول یعنې دعدل وزارت ته دارجاع نه پر ته دمحا سبا تي دوسیو حل او فصل دمحاسباتو دپلټنې دعمومي ریاست په مستقلو اجرا آتو کښې رعایت شي .

ها حل و فصل یافته و واقعیت باقیداریها ذمت اشخاص بامسئو لیت شان یاتنها باقیدارای شان وبرائت شان ویا کاملاء برائت شان صادر میگردد. که بدینصورت فیصله عادلانه صورت گرفته از یك جانب موضوع حسابی حل میگردد و تحصیل صورت می‌پذیرد واز طر ف دیگر مردم از سرگردانی و بی‌سرنوشتی فارغ میشوند و این طرز تلقی یعنی حل و فصل دوسیه های محاسباتی بدون ارجاع وزارت عدلیه دراجراآت مستقل ریاست تفتیش عمومی محاسبات مرعیت خواهد داشت .

# اعلانات وثبت علایم تجارتی

**به سلسله اعلانات قبلی منتشره جریده رسمی‌مو سسه (وارتااکتین گزلشافت) کـه مرکز اصلی آن درشهر (فـرا نکفورت مملکت (آلمان) به ادرس ذیل واقع است .**

VartaAk:!engeesell schaft. Frankfort, Germany.

علامت منسوبه خودرا که عبارت از (علامت ذیـل) بوده وقبلا قرار

VARTA-MIPOR

اظهار نامـه نمبر (۲۹۸) و تاریخی ۹ـ۵ـ۴۳ تحت شماره (۸۹) درطبقات ۹و۱۷ برای‌مدت‌ده سال ثبت‌گردیده بود چون معیاد حمایه مذکور بتاریخ ۹ـ۵ـ۵۳ ختم میگر ددبمو جب اظهار نامه نمبر (۹۵٤) تـاریخی ۱۹ـ۶ـ۵۳ علامت مذکور طبق ماده (۱۷) اصو لنامه ثبت علایم تجارتی برای مـدت ده سال دیگر تمدیـدگردید .

**موسسه (گی گز ا. سی. ا) کـه مرکز اصلی آن‌درشهر (فریبورگ) مملکت (سو یـزر لینـد) واقـع‌است .**

Guigoz S.A., of 1628, Vuadens,canton of Fribourg, Switzer land.

میخواهد علامت خودرا که‌عبارت ازکلمه **NATIVA** بوده وبروی اجناس تولیدات شمول‌طبقات (۵و۲۹) استعمال‌مینماید به ثبت برساند. موضوع جهت اطلاع علاقمندان اعلان شد هرگاه اشخاص وموسسات بوعلامت مزبـور کـدام‌اعترا داشته باشند الی پانزده روز بمدیریت ثبت اسناد وعلایم‌تجارتی مراجعه نماید .

**موسسه (یو-سی-بی) که مرکز اصلی آن درشهر (بروسل) مملکت بلجیم واقع است .**

U.C.B. a societe anonyme organized Under the Laws of Belgium, estaje lished at Saint—Gilles-lez-Bruxelles (Belgium) 4, chaussee de charleroi

میخواهد علامت منسوبه خود را که عبارت از علامات ذیل

ucb

**LONGIVIT**
**ISONOX**
**NOOTROPIL**
**LIBRATARCOMPLEX**
**BALSOCLASE**
**TOCLASE**
**ATARAX**
**LONGIFENE**
**POSTADOXINE**
**LIBRATAR**
**DILIGAN**

بوده وبروی تولیدات واجناس ادویه جات و مواد مربوط آن شامل طبقه (پنج) بکار برده میشود به ثبت دفتر ثبت اسناد و علایم تجارتی محکمه استیناف عالی مرکزی برسانند موضوع جهت اطلاع علاقمندان اعلان شد هرگاه اشخاص وموسسات بر علامت مذکور کدام اعتراض داشته باشند الی پانزده روز بدفتر ثبت اسناد وعلایم تجارتی مراجعه نمایند .

**موسه (جرمان - روپ ) مرکز اصلی آن در شهر ( اوهیو) مملکت (امریکا) واقع است .**

Thegorman —Ruppcompany, 303 Bowam street, mansfie ld, ohio, U.S.A.

میخواهد علامت منسوبه خود را که عبارت از کلمه .

**GOR MAN—RUPP**

بوده و بروی تولیدات و اجناس شامل طبقه (۷-۹-۱۲) بکار برده میشود به ثبت دفتر ثبت اسناد و علایم تجارتی محکمه استیناف عالی مرکزی برساند وضوع جهت اطلاع علاقمندان اعلان شد هر گاه اشخاص وموسسات برعلامت مذکور کدام اعتراض داشته باشند الی پانزده روز بدفتر ثبت اسناد وعلایم تجارتی مراجعه نمایند .

**موسسه (کمپنی ساعت های لانژین) فرانسیون که مرکز اصلی آن در شهر (SAINT IMIER) مملکت (SUISSE) واقع است.**

میخواهد علامت منسوبه خود راکه عبارت از علامت ذیل :

*Flagship*

بوده بروی تولیدات و اجناس شامل طبقه ( ۱۴ ) بکار برده میشود به ثبت دفتر ثبت اسناد و علایم تجارتی دیوان تجارتی محکمه استیناف عالی مرکزی برساند موضوع جهت اطلاع علاقمندان اعلان شد هر گاه اشخاص وموسسات بر علامت مذکور کدام اعتراض داشته باشند الی پانزده روز بدفتر ثبت اسناد وعلایم تجارتی مراجعه نمایند .

**موسسه (هوخست اکتین گزلشافت) که مرکز اصلی آن در شهر (فرانکفورت) مملکت (آلمان) غرب واقع است .**

HOECHST AKTIENGESELLSCHAFT 6230 Frankfurt (Main) 80 West Germany.

میخواهد علامت منسوبه خودراکه عبارت ازکلمات ذیل

**FRIGEN, FRICIUM**

بوده و بروی تولیدات و اجناس شامل طبقه (۳و۵) بکار برده میشود به ثبت دفتر ثبت اسناد و علایم تجارتی محکمه استیناف عالی مرکزی برساند موضوع جهت اطلاع علاقمندان اعلان شد هرگاه اشخاص وموسسات بر علامت مذکور کدام اعتراض داشته باشند الی پانزده روز بدفتر ثبت اسناد وعلایم تجارتی مراجعه نمایند .

**موسسه (کمپنی ساعت های لانژین) فرانسیون که مرکز اصلی آن در شهر (SAINT IMIER) مملکت (SUISSE) واقع است.**

میخواهد علامت منسوبه خود راکه عبارت از علامت ذیل :

*Conquest*

بوده بروی تولیدات و اجناس شامل طبقه ( ۱۴ ) بکار برده میشود به ثبت دفتر ثبت اسناد و علایم تجارتی دیوان تجارتی محکمه استیناف عالی مرکزی برساند موضوع جهت اطلاع علاقمندان اعلان شد هر گاه اشخاص وموسسات بر علامت مذکور کدام اعتراض داشته باشند الی پانزده روز بدفتر ثبت اسناد وعلایم تجارتی مراجعه نمایند .

**موسسه (کارل زایس‌ینا) مرکز اصلی آن در شهـر (ینـا) مملکت (المان شرقی) واقع است .**

Veb carlzeiss Jena, car 1-Zeiss-strasse, Jema, 1/Gdr/Germany.

میخواهد علامت منسو به خودرا که عبارت از علامت ذیل ـ

CARLZEISS
JENA

بوده وبروی تولیدات واجناس‌شامل طبقه (۹) بکار برده میشودبه‌ثبت دفتر ثبت اسنـاد وعـلایم تجارتی محکمه استیناف‌عالی مرکزی‌برساند موضوع جهت اطـلاع علاقمند ان اعـلان شـد هـر کـا ه اشخاص وموسسات برعلامت‌مذکور کـدام اعتراض داشته باشند الـی پانزده روز بدفتر ثبت اسنادوعلایم مراجعه نمایند .

**موسسه (اس ـ تی . او پونت) مرکز اصلی آن در شهر (پاریس ) مملکت (فرانسه) واقع است :**

S.T. Dupont. 8his, Ruedieu 75010. Paris Fronce.


میخواهد علامت منسوبه خود را که عبارت از علامات ذیل :

CRICKET
DRAGON

بوده و بروی تولیدات و اجناس تشامل‌طبقه (۳٤) بکار برده میشود به ثبت اسناد وعلایم تجارتی‌محمکه استیناف عالی مرکزی بـرسانـد موضوع جهت اطلاع علاقمندان‌اعلان شد هرگاه اشخاص و موسسات بر علامت مذکور کدام اعتراض داشته باشند الی پانزده روزر بدفتر ثبت اسناد وعلایم تجارتی‌مراجعه نمایند.

**تصحیح :**

علامت کمپنی ویت‌هارس که در شماره (۲۷٦) جریـده رسمی نشر گردیده بـود چون اصل علامت از چاپ مانده بود علامت مذ کور در ذیل تصحیح گردید .



# د ګلهون بیه

| | |
|---|---|
| په کابل کښې | (۲۲۰) افغانۍ |
| په ولایاتو کښې | (۲٤۰) افغانۍ |
| د پوهنې شاګردانو ته | نیمه بیه |
| په بهرنیو هیوادو کښې | (۱۰) امریکائی دالره |

د دې ګڼې بیه: (۲۰) افغانۍ

THE REPUBLIC OF AFGHANISTAN

# OFFICIAL GAZETTE


Issue No. 280

Date: August 22, 1974

Kabul, Afghanistan

Address: Ministry of Justice

Editor: M. H. Tughyan.

Assistant Editor: A. Habib Amin

تاریخ: پنجشنبه (۳۱) اسد ۱۳۵۳

تعداد طبع! (۳۰۰۰) نسخه

دولتی مطبعه